## د افغانستان اسلامی امــارت
## د کانونو او پټرولـیم وزارت

# د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



**ګڼه: ۳۶**

**نېټه: زمری ۲ / ۱۴۰۱**



# د MJAM شرکت له معاون سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور یکشنبه د ۱۴۰۱/۰۴/۲۶ نېټې د یاد وزارت د جیولوجي سروې له محترم معین او د مس عینک پروژې رئیس په شتون کې د MJAM شرکت له معاونې اغلې جانشي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دغه کتنه کې د مس عینک پروژې پرتخنیکي، مالي، د ځمکې پر استملاک او د لرغونو اثارو د لېږد په برخه کې پر وروستیو پرمختګونو خبرې وکړې.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وویل: زموږ اساسي هدف د کانونو په سکتور کې د تحرک رامنځته کول دي، په ځانګړي توګه د مس عینک د پروژې د ستونزو حل زموږ له لومړیتوبونو څخه دي همدارنګه یې زیاته کړه، چې د افغانستان اسلامی امارت ژمن دي، چې د نوموړې پروژې پلي کولو ته زمینه برابره کړي او ژر تر ژره یې ګټې اخیستنې ته وسپارې، ترڅو عملي کار پرې پیل او د خلکو لپاره د کار زمینه برابره شي، نوموړي زیاته کړه چې دغه پروژه د دواړو هیوادونو لپاره ګټوره ده.

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت د رهبري هئیت غونډه ترسره شوه



د کانونو او پټرولیم وزارت د رهبري هئیت غونډه د یاد وزارت سرپرست وزیر شیخ شهاب الدین (دلاور) صاحب په مشري د وزارت د معینانو، رئیسانو او مسوولینو په شتون کې پنجشنبه ۱۴۰۱/۰۴/۳۰په نېټې ترسره شوه

نوموړې غونډه د مولوي عبدالله نعماني لخوا د قران عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د کانونو او پټرولیم محترم سرپرست وزیر جلالتماب شیخ شهاب الدین (دلاور) تفصیلي وینا وکړه، نوموړي د رهبري هئیت غړي خپلو مسوولیتونو ته متوجه کړل او پدې اړوند یې لازمي لارښوونې وکړې هغه زیاته کړه: چې موږ باید د پخوا په پرتله لا زیات کار وکړو او در سپارل شوې دندې په صداقت او ایمانداري سره ترسره کړي، تر څو ښې پایلې ترلاسه کړو او ورځ تر بلې د کیفیت په لوړولو سره وکولای شو په ټولنه کې د وزارت معنوي مقام وده پیاوړی کړو، نوموړي د کانونو اوپټرولیم وزارت د عوایدو او د تېروکلونو په پرتله د مثبتو بدلونونو او همدارنګه د کانونو د ناقانونه استخراج په اړه هم خبرې وکړې .



همدارنګه د سمنګانو ولایت د کانونو ریاست د ډبروسکرو د مدیریت په اړه د تخنیکي تفتیش او چاپیریالي جیولوژی رئیسانو د ۷۶ ګڼې د ۱۴۴۳/۱۰/۲۶ نېټې د وړاندیز په اړه خپل نظرونه وړاندې کړل.

وروسته د سروې او جیولوجی معین نورالله ستانکزي د ۱۴۰۰ هـ ش مالي کال لپاره د سروې او جیولوژي ریاست د ساحوي پرسونل لپاره د سفریه او امتیازاتو د پلي کولو په اړه خبرې وکړې

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

## د A-92 براند 67000 لیتره د پترول تیلو او د L-62 براند 150000 لېټرو ډیزل تیلو چمتو کول




د کانونو او پټرولیم وزارت د تدارکاتو ریاست د خپل افغان ګاز تصدي په استازيتوب ټولو وړ نوماندانو ته بلنه ورکوي، چې د يادي تصدي د دريمي د درېيمي او څلورمي ربعي اړتیا لپاره A-92 براند 67000 لیتر د پټرولو تیل او د L-62 براند 150000لېټرو ډیزل تیلو تدارک په پروسه کې ګډون وکړي او د اړوندي شرطنامي کاپي د تدارکاتو د اجناسو او غیر مشورتي خدماتو له آمريت څخه د ۱۴۰۱/۵/۱۷ نېټي د دوشنبی په ورځ وروسته له غرمي په ۴:۰۰ بجو ترلاسه کولاي شي او خپل افرونه د شرطنامي او تدارکاتو او طرزالعمل له قانون سره سم ډکي او د افرګشايي په غونډه کې يې وړاندي کړي.

افرګشايي د سه شنبي په ورځ د ۱۴۰۱/۰۵/۱۸ نېټه مخکې له غرمي ۱۰:۰۰ بجي ده. د افر کوونکو تضمین باید د بانک ګرانتي وي او یا هم 525,000 پنځه سوه پنځه ویشت زره افغاني نغدي پیسي له ځانه سره ولري د دواطلبي وړ دي.

په تېرو لسو کلونو کی یو ورته قرارداد 13,700,000 د یارلس میلیونه اوه سوه زره افغاني په ارزښت وي.

او یا په تېرو لسو کلونو کې یو ورته قرار داد 23,900,000 درویشت میلیونه او نهه سوه رزه افغانیو په ارزشت وي.

د تېرو پنځو کلونو په وروستیو دوو کلونو کې د کلني راکړي ورکړي حجم (عمومي تجربه) 26,200,000 شپږ ویشت میلیونه او دوه سوه زره افغاني وي.

يادي پروژی مالي ظرفیت 5,700,000 پنځه میلونه او اوه سوه زره افغاني دي.

افرګشايي د کانونو او پټرولیم وزارت د محمود خان پله تر عبدالحق څلورلاري د مسلخ ترڅنګ د تدارکاتو ریاست لومړي منزل (۹۹) شمیره اطاق د یاد ریاست د غونډو په تالار کې ترسره کیږی.

کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه

# د هرات کاني ظواهر




د افغانستان په شمال لویدیز کې د هرات ولایت، په شمال کې یې ترکمنستان، په ختیځ کې یې بادغیس او غور، سویل ته یې فراه ولایت او لویدیز ته یې ایران هیواد پروت دی .د احصایي او معلوماتو ملي اداريې د کلني نفوس اټکل له مخې د دې ولایت نفوس شاوخوا (۲،۱۴۰،۶۶۲) تنو ته رسيږي.

د افغانستان د جیولوژي او د کانونو اړوندې اداريې له خوا تر سره شوو سروې ګانو له مخې دا ولايت بې شمېره معدني ظواهر او کانونه لري.

چې له هغې جملې څخه د تګاب په سیمه کې اوسپنه، کوه پود، پلنګ سور ، په شیدا کې میس، سیم کوه او شیدا، فوستاک کې قلعي، په سنګلان کې باریټ، په انجیل کې سره زر، په غوریان کې اوسپنه، په پوډر کې بسموت او په سرجر کې باریټ موقعیت لري.

## د کانونو د استخراج په پروژو کې د پانګونې فرصتونه




د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت د ملي اقتصاد د ودې او د کانونو په پروژو کې د پانګونې په برخه کې د خصوصي سکتور د هڅونې په موخه، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د کوچنیو کانونو د استخراج په برخه کې په شفافه، او اسانه توګه تاسو ته د  قانوني لاسرسي زمينه برابره کړې ده.

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د بغلان ولایت د دوو سیمو د ګچ ډبرو د کانونو دواطلبي



د کانونو او پټرولیم وزارت د بغلان ولایت د دوو سیمو د ګچ ډبرو کانونو د دواطلبي د ۱۴۰۱/۰۴/۲۸ نېټه د یاد وزارت په مقام کې په شفافه توګه ترسره کړه.

یاد وزارت د شیخ جلال او نېزار سیمو د ګچ ډبرو کانونه، چې مخکې اعلان ته سپارلي وو. د دواطلبي پروسه د پلان پالیسي معین شیخ الحدیث ضیاء الرحمن اریوبی په مشرۍ او د موظف هئیت او هغو شرکتونو په شتون کې چې د پروپوزلو په ارزونه کې د دواطلبي شرایط پوره کړي وو په شفافه توګه ترسره کړه.

په دغه دواطلبي کې سکاي آریا شرکت د شیخ جلال د ګچ ډبرو پروژه د ۷۲۵ افغانیو او نیزار پروژه ۶۹۰ افغانیو په ارزښت ګټونکي شو.

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید




د کانونو او پټرولیم وزارت ۱۴۰۱/۰۴/۲۳ نیټي څخه تر ۱۴۰۲/۰۴/۲۹ نیټي پورې ټول ( 184,142,531) یو سلو څلور اتیا میلیونه، یو سلو دوه څلوېښت زره پنځه سوه یو دیرش افغانی عواید راټول کړي دي.


ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: +93202304455

الکترونیکي پته: www.momp.gov.af

ایمیل ادرس: PR@momp.govaf



د امتیاز خاوند: د کانونو او پټرولیم وزارت

مسوول مدیر: شمس الدین (مصلح)

ترتیب او تنظیم : استاد نجیب الله (رحیمي)

طرح او ډیزاین: محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)